مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۴۰** (از ۲۱ الی ۲۸ دلو ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

### د ملي یووالي حکومت د کاري دورې د غځولو اوازې

د ملي یووالي حکومت ژمنې ........................................ ۴

د ملي یووالي حکومت درې کلنه حکومتولي ........................................ ۵

د ملي یووالي حکومت راتلونکی ........................................ ۷

### نشست آیندهٔ پروسهٔ کابل و سرنوشت گفتگوهای صلح

اهداف پروسهٔ کابل ........................................ ۹

نخستین نشست پروسهٔ کابل ........................................ ۹

نشست آیندهٔ و سرنوشت صلح با طالبان ........................................ ۱۰

## مقدمه

له يوې خوا د ملي يووالي حکومت په سياسي او امنيتي ډګر کې له پراخو ستونزو سره مخ دی او له بلې خوا د ټاکنيزو کميسيونو پر اوسني فعاليت او وړتياوو هم په ملي او نړيواله کچه بې‌باوري ورځ تر بلې په زياتېدو ده، چې له کبله يې د راتلونکو پارلماني او ولسمشريزو ټاکنو د نه ترسره کېدو اندېښنې هم زياتې شوې دي.

تېره اونۍ داسې راپورونه هم خپاره شول، چې د ملي يووالي حکومت هڅه کوي، د دغه حکومت موده له ټاکنو پرته د يوې بلې دورې لپاره هم وغځوي. که څه هم ولسمشرۍ ماڼۍ دا اوازې رد کړې دي؛ خو ځينې شواهد ښيي چې دا طرحه تر غور لاندې ده. پر همدې موضوع د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل په لومړۍ برخه کې شننه لولئ.

د تحليل په دويمه برخه کې بيا د کابل پروسې او د دغې پروسې د راتلونکې غونډې په اړه لولئ. کابل پروسه د افغان حکومت په نوښت او مديريت پيل شوې او تراوسه يې يوه غونډه په کابل کې جوړه شوې ده. د دغې لړۍ په لومړۍ غونډه کې افغان ولسمشر د سولې د وروستي چانس په توګه پر طالبانو غږ وکړ، چې له ملي يووالي حکومت سره د سولې خبرو اترو ته کېني؛ خو دا چې اوس حکومت له دغې ډلې سره د سولې خبرې تحريم کړې دي، د راتلونکې غونډې محوري بحث به څه وي؟ او دا غونډه به په هېواد کې د سولې او ثبات لپاره څه پيغام له ځان سره ولري؟

# د ملي یووالي حکومت د کاري دورې د غځولو اوازې



تېره اوونۍ رسینو د ځینو سرچینو له قوله داسې راپورونه خپاره کړل، چې ګواکې امریکا او ورسره د ملي یووالي حکومت مشران هڅه کوي، څو د یوې قیادي شورا په رامنځته کولو سره په افغانستان کې د اوسني حکومت موده د راروانو ولسمشریزو ټاکنو له ترسره کېدو پرته، پنځه کاله نوره هم وغځوي.

په دې تړاو ګنګوسې هغه مهال زیاتې شوې، چې ولسمشر اشرف غني له ځینو سیاسي او جهادي رهبرانو او مشرانو سره جلا جلا ملاقاتونه وکړل؛ خو د ولسمشرۍ ماڼۍ سرپرست ویاند شاه‌حسین مرتضوي د دغو راپورونو په ردولو سره وویل، چې له سیاسي او جهادي مشرانو سره د ولسمشر لیده کاته، د ملي او نړیوالو مسایلو په اړه د مشورو لپاره وو او هغه اوازې یې رد کړې، چې ګواکې د ملي یووالي حکومت د ټاکنو پر ځای د قیادي شورا په جوړېدو سره غواړي د حکومت موده وغځوي.

د حزب اسلامي مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار، چې تازه یې له ولسمشر سره کتلي دي، د یوه خصوصي ټلویزیون له مشرتابه سره په کتنه کې د ټاکنو پر ځای د قیادي شورا د جوړولو طرحه ناکامه بللې او د داسې شورا له جوړېدو سره یې مخالفت کړی. داسې برېښي چې له ولسمشر سره د ښاغلي حکمتیار په ملاقات کې دا خبره مطرح شوې ده. د دې ترڅنګ د حراست او ثبات شورا ویاند مسعود ترشتوال هم په دې تړاو څرګندونې کړې دي. عبدالرب رسول سیاف، چې د دغې شورا مشرتابه غړی دی، له ولسمشر سره یې کتلي دي.

د ملي يووالي حکومت د څه باندې دريو کلونو له تېرېدو سره، ډېری هغه ژمنې چې د همدغه حکومت د جوړېدو په هوکړه‌لیک کې يې په عملي کېدو ټينګار شوی و، تراوسه نه دي عملي کړې، چې يو اصلي لامل يې هم د حکومت کمزوری حاکمیت بلل کېږي. له همدې کبله اوس د حکومت له‌خوا د ولسمشريزو ټاکنو د نه ترسره کولو په تړاو هم اندېښنې راټوکېدلې دي.

دلته د ملي يووالي حکومت پر تېره څه باندې درې کلنه دوره، د دغه حکومت د مشرانو له‌خوا ولس ته په ورکړل شوو ژمنو او د دغه حکومت پر راتلونکې شننه لولئ.

## د ملي يووالي حکومت ژمنې

د ولسمشرۍ ماڼۍ سرپرست وياند د قيادي شورا د جوړېدو په اړه وايي: «ولسمشر هوډ نه لري چې د قانوني مودې تر بشپړېدو وروسته خپل کار ته دوام ورکړي او موږ په خپل وخت د ټاکنو ترسره کېدو ته ژمن يو.» اوس پوښتنه دا ده چې د ملي يووالي حکومت په تېرو څه باندې دريو کلونو کې څومره د خپلو کړو ژمنو عملي کېدو ته ژمن پاتې شوی؟

د ملي يووالي حکومت، د هېواد په تاريخ کې له ټولو اوږدې او جنجالي ټاکنيزې پروسې وروسته، د دوو ټاکنيزو ډلو ترمنځ د امريکا د بهرنيو چارو د پخواني وزير جان کيري په منځګړيتوب د سياسي هوکړه‌لیک پر بنسټ رامنځته شو. د دغه هوکړه‌لیک څو مهم ټکي، چې بايد عملي شوي وای، په لاندې ډول دي:

**لومړی؛ د اساسي قانون د تعديل لپاره د لويې جرګې رابلل:** د ملي يووالي حکومت د هوکړه‌لیک پر بنسټ دواړو لورو ژمنه کړې وه، چې په دوو کلونو کې دننه به د اساسي قانون د تعديل لپاره لويه جرګه راغواړي، ترڅو په اساسي قانون کې د اجرائيه رياست څوکۍ قانوني کړي.

اوسمهال د ملي يووالي حکومت له جوړېدو څه باندې درې کاله تېرېږي؛ نه دا جرګه راغوښتل شوې، نه اساسي قانون تعديل شوی او نه هم په دې موخه د لويې جرګې د رابللو کومه نېټه ټاکل شوې ده؛ بلکې د دوو کالو په تېرېدو، يو ځل بيا د جان کيري په منځګړيتوب د اجرائيه رياست موده تر پنځو کالو وغځېده.

**دويم؛ د ټاکنيز سيستم اصلاح کول:** د ملي يووالي حکومت په هوکړه‌لیک کې د ټاکنيز سيستم اصلاح، يوه مهم موضوع وه، چې حکومت يې په عملي کېدو کې تر ډېره پاتې راغی؛ د همدې پاتې راتلو له کبله پارلماني ټاکنې په وخت ترسره نه شوې او د ملي شورا کاري موده د قانون خلاف دوه ځله د يوه-يوه کال لپاره وغځېده.

اوس مهال چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د پارلماني ټاکنو لپاره د ۱۳۹۷ لمریز کال د سرطان ۱٦مه نېټه ټاکلې ده؛ ډېری نړیوال او داخلي بنسټونه په دې باور دي چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون اوسنی کار او فعالیت، د راروانو ټاکنو پر خپل وخت او شفافه توګه ترسره کېدو لپاره بسنه نه کوي.

**دریم؛ د برېښناي پېژندپاڼو وېش:** د هوکړه‌لیک بله برخه د برېښنایي تذکرو د وېشلو لپاره ځانګړې شوې وه. د برېښنایي پېژندپاڼو وېش چې په هېواد کې د نورو برخو ترڅنګ د ټاکنو لپاره هم خورا مهم ګڼل کېږي، د دریو کالو په تېرېدو لا هم د ملي یووالي حکومت نه دی توانېدلی، چې د وېش لړۍ یې پیل کړي. دا مسله په هېواد کې ورځ تربلې سیاسي او قومي رنګ اخلي او داسې ښکاري چې دا پروسه به نوره هم وځنډېږي.

سره له دې، چې حکومت ډېرې نورې داسې ژمنې هم کړې، چې پکې پاتې راتلل یې د هېواد د اوسني بد وضعیت لامل شوي؛ خو د ملي یووالي حکومت د جوړېدو په سیاسي هوکړه‌لیک کې پورته ذکر شوي څو ټکي هغه موارد دي، چې که عملي شوي وای، ښایي په هېواد کې رواني ستونزې یې کمې کړې وای؛ خو برعکس د ملي یووالي حکومت مشرانو تر ډېره د هوکړه‌لیک پر هغو مادو زیات تمرکز درلود، چې د دوی ترمنځ د واک د وېش د څرنګوالي په اړه وې.

د ملي یووالي حکومت له لوري په خپلو کړو ژمنو عمل نه کول د دې لامل شوی، چې په داخلي او نړیواله کچه خپل باور له لاسه ورکړي او نور د دې تمه ونه شي، چې حکومت دې له دې وروسته هم په خپلو کړو ژمنو عمل وکړي.

## د ملي یووالي حکومت درې کلنه حکومتولي

د افغانستان په څېر یوه جګړه‌ځپلي هېواد کې د واک پر سر له زیاتو اختلافونو راوروسته د ملي یووالي په نوم د یوه ایتلافي حکومت رامنځته کېدو پرېکړه، له لومړي سره په هېواد کې د یوه کمزوري حکومت د رامنځته کولو بنسټ و.

که د ملي یووالي حکومت درې کلن مزل ته نظر وکړو، دا حکومت له جوړېدو سره سم د داخلي اختلافاتو ښکار شو. په لومړیو کې د دواړو ټاکنیزو ډلو د مشرانو (ولسمشر او اجراییه رئیس) ترمنځ او وروسته د دغو دوو ډلو دننه خپلمنځي اختلافات راټوکېدل. دغه اختلافات د دریو کلونو په تېرېدو سره لا هم په یوه او بله بڼه روان دي، چې په وروستي مورد کې یې د سیمه‌ییزو حکومتي چارواکو او مرکزي حکومت ترمنځ د یوه سیاسي بحران بڼه هم خپله کړې او د مرکز حکومت واک یې په لوړه کچه ننګولی دی.

د داخلي اختلافاتو ترځنګ د ملي يوالي حکومت په رامنځته کېدو سره د هېواد امنيتي وضعيت د تېر په پرتله نور هم خراب شو. په هېواد کې د جګړې لمن له جنوب څخه شمال ته پراخه شوه او د تېر په پرتله په شمالي ولايتونو کې جګړې زور واخيست. کندوز هغه ښار و، چې د طالبانو د رژيم له راپرځېدو وروسته يې په لومړي ځل د ملي يوالي حکومت پر مهال سقوط وکړ او دوه ځله دا ښار د طالبانو لاس ته ورغی.

د دې ترڅنګ د حکومت تر کنترول لاندې سيمې کمې شوې، د پخوا په پرتله ملکي تلفاتو کچه لوړه شوه، اسلامي دولت "داعش" ډلې په هېواد کې فعاليت پيل کړ او په ډېر سرعت يې د هېواد له ختيځ څخه شمال او نورو سيمو ته پراختيا وکړه، دغه راز د افغان نظاميانو په تلفاتو کې هم د تېر په پرتله زياتوالی راغی.

د سولې قضيه هم، چې په هېواد د رواني جګړې يوازينۍ حل‌لاره ګڼل کېږي، د تېر په شان د ملي يووالي حکومت پر مهال هم يوازې د شعار په توګه مخته وړل شوې او د جګړې دواړه لوري هېڅ داسې کوم عملي او رېښتني ګام اخيستلو ته نه دي تيار شوي، چې په هېواد کې د سولې د ټينګښت لپاره د دروازې پرانيستلو لامل شي. د ملي يووالي حکومت په لومړيو کې هڅه وکړه، چې د بهرني سياست له لارې سولې ته ورسېږي. د همدغو هڅو په پايله کې د ارومچي، مري، څلور اړخيزو مذاکراتو، پګواش، کابل پروسې او نورې ښکاره او پټې ناستې شوې دي؛ خو تر دې دمه يې کومه مثبته پايله نه ده لرلې.

له بله پلوه، د امريکا له لوري د افغانستان او سوېلي آسيا په تړاو د نوې پوځي تګلارې اعلان، په افغانستان کې د سولې د ټينګښت لپاره شته هيلې هم له منځه يووړې، ځکه په دې تګلاره کې ښکاره په جګړه ټينګار شوی او سوله له پامه غوځول شوې ده.

د نورو برخو ترڅنګ د ملي يووالي حکومت پر مهال د افغانستان بهرنی سياست تر ډېره غبرګوني او په هېواد کې له امنيتي وضعيت سره تړل شوی و. دغه راز بهرنی سياست بې‌ثباته روان و او په يو شمېر برخو کې نامتوازن هم و؛ خو له همدغو ستونزو سره سره د ملي يووالي حکومت چې کومې لاسته راوړنې لري، نو تر ډېره د بهرني سياست په برخه کې دي او په ځانګړې توګه د مرستو د راجلبولو، د انرژۍ د لېږد سيمه‌ييزو پروژو د کار پيلېدو او د ترانزيټ او سوداګرۍ په برخه کې له ځينو هېوادونو سره د هوکړه‌ليکونو د لاسليک کولو يادونه کولی شو.

## د ملي يووالي حکومت راتلونکی

ورځ تر بلې زياتېدونکې ناامنی، په لوړه کچه د حکومتي چارواکو ترمنځ ژور اختلافات او سياسي بې‌ثباتي، مخ په ځوړ اقتصادي وضعيت او د بې‌کارۍ او بې‌وزلۍ لوړه کچه هغه موارد دي، چې اوسمهال د افغانستان ولس او دولت دواړه ورسره مخ دي. په تېرو دريو کلونو کې د همدغه وضعيت له امله د ملي يووالي حکومت ونه توانېده، چې خپلې کړې ژمنې عملي کړای شي؛ خو هغه څه چې د ملي يووالي حکومت تر دې دمه په کې بريالی بريښي، د دغه حکومت نيم‌ژواندی پايښت دی.

سره له دې چې په تېرو دريو کلونو کې د خلکو، سياسي احزابو او نورو داخلي ډلو له لوري د ملي يووالي حکومت د کړنو پرضد، وخت نا وخت اعتراضونه، گواښونه او لاريونه هم شوي؛ خو حکومت تر ډېره پام نه دی ورته کړی او له همدې کبله داسې برېښي، چې له دې وروسته به هم حکومت سياسي مخالفتونو او اعتراضونو ته پام ونه کړي.

دا چې اوس د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو د نه ترسره کېدو او پر ځای يې د يوې قيادي شورا د جوړولو له لارې د حکومت د مودې غځولو گنگوسې خپرېږي؛ داسې ښکاري، چې که راتلونکي پارلماني ټاکنې په وخت ترسره نه شي، ښايي دا گنگوسې د حقيقت جامه واغوندي. په داسې حال کې چې اوسنی کړکېچن سياسي او امنيتي وضعيت او په ټوله کې د حکومت کمزوري وضعيت ته په کتلو سره ښايي دا ټاکنې په وخت ترسره نه شي.

دغه وضعيت ته په کتلو سره دا تحليلونه تقويه کېږي، چې له ټاکنو پرته به د حکومت د مودې غځولو هڅه وشي او له بله پلوه، ښايي امريکا هم د ډونالډ ټرمپ د ولسمشرۍ تر پايه د همدغه حکومت دوام د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په خپله گټه وبولي.

# نشست آیندهٔ پروسهٔ کابل و سرنوشت گفتگوهای صلح




قرار است نشست دوم "پروسهٔ کابل" با اشتراک نماینده‌گان ده‌ها کشور منطقه و جهان و سازمان‌های بین‌المللی، چند روز بعد به تاریخ ۲۸ فبروری ۲۰۱۸ در کابل برگزار گردد.

پروسهٔ کابل با ابتکار و رهبری حکومت افغانستان آغاز و مدیریت می‌شود، چیزیکه این پروسهٔ را از پروسه‌های مشابه گذشته متفاوت ساخته است. نشست اول پروسهٔ کابل حدود هشت ماه قبل با اشتراک نماینده‌گان ۲۳ کشور و چندین سازمان بین‌المللی در کابل برگزار شد.

در این اواخر پس از حملات خونین طالبان در کابل، گفتگوهای صلح با طالبان نخست از سوی امریکا و سپس از سوی حکومت افغانستان تحریم شد و رئیس جمهور افغانستان بارها از انتقام‌گیری این حملات از طالبان سخن زده است. از سوی دیگر، حملات هوایی نیروهای افغان و امریکایی برضد طالبان نیز افزایش یافته است.

اینکه با در نظرداشت تحولات اخیر، نشست آیندهٔ پروسهٔ کابل روی چه محوری تمرکز خواهد داشت؟ و تعهدات نشست اول این پروسه تا چه حد عملی شده است؟ پرسش‌هایی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## اهداف پروسهٔ کابل

تامین صلح در کشور یکی از عناصر سیاست خارجی حکومت وحدت ملی پس از روی‌کار آمدن این حکومت پنداشته می‌شود و حکومت وحدت ملی از همان آغاز در تلاش رسیدن به صلح از طریق سیاست خارجی کشور بود. پس از آنکه تلاش‌های حکومت در این عرصه نتیجهٔ ملموسی به بار نیاورد، حکومت افغانستان "پروسهٔ کابل" را آغاز کرد که بیشتر اهداف ذیل را دنبال می‌کرد:

- حمایت از پروسهٔ صلح افغانستان به ابتکار و رهبری افغان‌ها.
- ایجاد اجماع منطقوی و بین‌المللی به منظور تامین صلح و ثبات در افغانستان.
- جلب همکاری کشورهای منطقه و جهان برای فشارها بر پاکستان و حمایت از راه‌کار فشارهای نظامی در صورت حاضر نشدن طالبان به مذاکرات صلح.

هرچند در طول یک‌ونیم دههٔ گذشته کنفرانس‌ها و تلاش‌های متعددی در رابطه به صلح افغانستان تدویر یافته است، اما ویژه‌گی پروسهٔ کابل این بود که این پروسه با ابتکار، رهبری و مدیریت افغان‌ها آغاز گردید و به همین دلیل با تلاش‌های گذشته متفاوت بود. افغانستان با آغاز این نشست‌ها خواست کشورهای منطقه را به تهدید مشترک ناامنی‌ها در افغانستان قانع کند و از این طریق همکاری‌های نظامی آن‌ها را نیز جلب نماید.

## نخستین نشست پروسهٔ کابل

برخی نتایج کنفرانس اول پروسهٔ کابل را می‌توان در سه نکتهٔ ذیل بیان کرد:

**نخست:** در این کنفرانس رئیس جمهور غنی برای «آخرین» بار از طالبان خواست تا به ندای حکومت افغانستان برای صلح لبیک بگویند. به گفتهٔ او «ما برای صلح یک فرصت می‌دهیم؛ اما این باید روشن باشد که این یک فرصت ابدی نیست.» طالبان اما از آنجاییکه حکومت افغانستان را در گفتگوهای صلح بی‌صلاحیت و طرف اصلی مذاکرات را امریکا می‌دانند، نه تنها پیشنهاد حکومت افغانستان برای آغاز گفتگوهای صلح را نپذیرفت، بلکه بر راه‌کار نظامی خود تاکید نیز کرد.

**دوم:** حکومت افغانستان در آن نشست مخالفت خویش با تلاش‌های برخی کشورها در رابطه به صلح افغانستان اعلام کرد و هدف چنین تلاش‌ها را غیرواضع خواند. بخشی از این مخالف به نشست سه‌جانبهٔ چین-روسیه-

پاکستان اشاره داشت که در مورد قضیهٔ افغانستان بدون حضور نمایندهی از حکومت افغانستان در مسکو برگزار شد. ولی نه تنها جلو چنین تلاش‌ها گرفته نشده، بلکه روز به روز عمیق‌تر نیز می‌گردد و افغانستان در حال مبدل شدن به میدان جنگ‌های نیابتی قدرت‌های بزرگ است. به همین دلیل، طالبان نیز در نامه‌ای اخیر این گروه به مردم امریکا، به این نکته نیز اشاره کرده و گفته است که برخی کشورها در تلاش تحکیم روابط با طالبان است.

**سوم:** حکومت افغانستان در آن نشست تلاش حل مشکل با پاکستان را نیز کرد. رئیس جمهور غنی در آن نشست گفت: «مهم‌ترین اولویت ما یافتن راهی موثری برای مذاکرات با پاکستان است. هرچند ما دست دوستی به سوی پاکستان را دراز کردیم، اما از طرف پاکستان رد شد و مذاکرات دوجانبه، سه‌جانبه و چهارجانبه و حتی چندجانبه را نیز آزمودیم، ولی نتیجه‌ی نداشت. اگر ما می‌خواهیم هنوز هم بر پاکستان اعتماد کنیم، خواست‌های واضع پاکستان را نمی‌دانیم» رئیس جمهور از این طریق خواست تا اشتراک کننده‌گان این نشست بین‌المللی را به عدم همکاری پاکستان در پروسهٔ صلح افغانستان قانع کند و از این طریق پاکستان تحت فشارهای بیشتری قرار دهد. افغانستان در این هدف خویش به خصوص در یک سال گذشته تا حدی موفق نیز بوده و پاکستان در سطح منطقوی و بین‌المللی زیر فشارهای بی‌پیشینه قرار گرفته است.

## نشست آیندهٔ و سرنوشت صلح با طالبان

کنفرانس دوم پروسهٔ کابل زمانی برگزار می‌گردد که گفتگوهای صلح با طالبان از سوی امریکا، ناتو و حکومت وحدت ملی تحریم شده و حکومت افغانستان در تلاش افزایش فشارهای نظامی و سیاسی بر طالبان است. بنابراین، توقع حکومت افغانستان از این نشست بیشتر در خصوص جلب حمایت کشورهای منطقه و جهان از راه‌کار نظامی حکومت و رسیدن به صلح از راه جنگ خواهد بود.

از آنجاییکه پاکستان در چند ماه اخیر بیشتر تحت فشارهای منطقوی و جهانی قرار گرفته است، حکومت افغانستان با استفاده از این فرصت در دومین دور نشست‌های پروسهٔ کابل نیز در تلاش افزایش فشارها بر پاکستان خواهد بود. در کنار این، به نظر نمی‌رسد در نشست آیندهٔ پروسهٔ کابل سخنی از مذاکرات صلح با طالبان مطرح باشد، بلکه حمایت از فشارهای نظامی بالای این گروه آجندای اصلی این نشست را تشکیل خواهد داد.

در کل، ناامیدی‌ها نسبت به تامین صلح در کشور روز به روز افزایش می‌یابد، چون پس از اعلام استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان و آسیای جنوبی جنگ در کشور شعله‌ور شده است، چیزی‌که در طول یک ونیم دهۀ گذشته نتیجه‌ای در پی نداشته است و امریکا در این مدت نتوانست از  این طریق طالبان را شکست دهد و جنگ  افغانستان را به پایان برساند.

از سوی دیگر، نامۀ اخیر طالبان به مردم امریکا، نشانگر آن است که این گروه نیز برنامه‌ی برای گفتگو با حکومت افغانستان ندارد و بیشتر تاکید آنان روی مذاکرات با امریکاست، در حالیکه امریکا و ناتو هیچ برنامه‌ی برای گفتگو با طالبان ندارد. به همین دلیل، نگرانی‌های پیچیده‌تر شدن قضیۀ افغانستان و طولانی شدن این جنگ روز به روز بیشتر می‌شود.

یکی از عوامل اینکه طالبان با حکومت افغانستان حاضر به گفتگوها نمی‌شود، این است که حکومت افغانستان تا کنون یک میکانیزم مشخص برای صلح ندارد. گاهی از درِ سیاست خارجی به خصوص از طریق پاکستان تلاش صلح با طالبان را می‌کند و گاهی نیز از طریق زور و فشار و راه جنگ در پی حاضر نمودن طالبان به میز مذاکرات صلح است. راه‌کارهای که گذشته‌ها ناکارآمدی آنرا ثابت ساخته است. از سوی دیگر، تا زمانی که راه‌کار سرکوب‌گرانه و جنگی و کاربرد کلمۀ صلح به مفهوم تسلیم شدن طالبان به حکومت، به یک راه‌کار واقعی صلح تغییر نکند، امیدی به موفقیت پروسۀ صلح در کشور به وجود نخواهد آمد. همچنان، با درک این حقیقت از جانب طالبان که قربانیان اصلی جنگ در حال حاضر افغان‌هاست، غیر از اینکه طالبان حکومت افغانستان را به عنوان یک واقعیت بپذیرند و وارد گفتگوهای صلح با این حکومت شوند، راهی برای رسیدن به صلح در کشور میسر نخواهد شد. خارجی‌ها اگر خواهان صلح در کشور می‌بودند، سال‌ها پیش صلح در کشور تامین می‌شد. پایان

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.